مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۰/۱۰/۱۶

# د موډېرنيزم په اړه يوه پوښتنه * دا وه:

"يوه بشري انديښنه او بېځوابه پوښتنه شته، چې ولې انسان د اوسني پېر له موډېرن Modern کېدو سره د هوسا کېدو پرځاى ناراحته کيږي؟ [ کواکې] زموږ نيکونو د بدوي ژوند په لرلو ډېر ډاډمن، هوسا او متوکل ژوند درلود، خو نننى انسان...؟"
دې پوښتني ته ځواب ګڼ اړخيز دی:

**اول:** مهمه داده، چي هوساينه څنګه تعريفوو؟

**دوهم:** انسان څومره چې هوسا کيږي، لا يې هوساينې ته تنده زياتيږي، د انسان د (هڅي) ماهيت د هغه په دې جوهر کې نغښتی، چې پر شتو امکاناتو قناعت نه کوي.

د وجودي ـ حضوري فيلوسوفي (اېګزېستېنسياليزم) پلويان د هرې زماني انسان د هغې زماني د امکاناتو په انډول، د خپل ماهيت پر ټاکلو محکوموي، لامل يې دا بولي، چي (حضور- وجود) ولاړ يا ثابت، خو د ماهيت ټاکنه يې مستمر حقيقت دی، چي تر ټولو مهمه نښه يې ژوند دی. ژوند ولاړه نه، بلکي روانه او بهانده ښکارنده ده .
اصلي پايله او لنډ ځواب دا دی: په هره زمانه کې ګڼ خلک داسي فکر کوي، چې تر دوی پخواني زمانه ښه وه.
زموږ هغه نيکونه چې موږ ته يې زمانه ترموږ ښه او دوی راته تر خپلو ځانونو "ډاډمن، هوسا او متوکل "ښکاري، هغوی هم فکر کاوه چي نيکونه يې ( زموږ د نيکونو نيکونه) تر دوی خوښ ول او زمانه يې د دوی تر زماني ښه وه .
رحمان بابا فرمايلي وو:

خدايه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر په باطن سپين سپيڅلي خلک

هيڅ خندا مي له دې خلکو سره نه شي
ژړوي مـي هـغـه تــلـــلــي تللي خلک

رحمان بابا ته هم د خپلي زماني خلک ښه نه ايسېدل، او د تللو خلکو او تللي زماني ارمان يې کاوه .
نوستالژيک حسرت يوازې په فرد کي نه، چي لا په ټولنه کې هم تل ژوندی دی. نوستالژيک حسرت موږ ته دا تصور راکوي، چي تېره زمانه ښه وه او اوس موږ په بده زمانه کې ژوند کوو .
د نړۍ ادبيات له داسي حسرتونو ډک دي. د ادبياتو او عرفان څېرونکي فکر کوي، چي د انسان نوستالژيک حسرت ان لا له جنت څخه د راشړل کېدو له ورځې پيل شوی دی .
مولانا فرمايي:

هرکسي کو دور ماند از اصل خويش
بـاز جـويـد روزگـار وصـل خـويش


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولۍ

ځانوژني، له ژونده ستوماني، ډېرپښنونه، رواني فشارونه، ناهيلی، ژوند ته په کمه کتل او پوچ يي ګڼل خورا لرغوني انساني غميزې دي.
پخوا اينټرنيټ، تلويزيون، رسنۍ، او د خبرېدو راخبرېدو چټک وسايل نه ول، ځکه موږ ترې خبر نه يو، چې زموږ نيکونه له خپلې زماني ځومره ځورېدل؟
د پخوانيو د ځورېدو او له زماني څخه د خپګان نښې يوازې په ادبياتو او هنرونو کې راپاتې دي .
موږ وايو: د نيکه کڼاوې سپکي مه يادوه .
کڼاوې درنې، بدبوله، ځورونکي لرګينې څپلکي وې، چې پخوانيو خلکو جوړولې. اوسني خلک روغتيايي سپکې، خورا هوسا و ښکلې څپلکي پښو کوي .
د نيکه کڼاوې پرته له دې چې د بابا وې او بابا ته درناوی لرو، هېڅ بله ښېګنه نه درلوده، نو ولې يې بايد ښې يادې کړو؟
هو، ريښتيا! د بابا درناوی له کڼاوو سره څه اړيکه لري؟
په دې کې شک نه شته، چې تيکنولوژي د انسان خپلواکي ګواښلې او انسان يې له ګڼو رواني ستونزو سره مخامخ کړی. تيکنولوژي انسان له طبيعت څخه لرې کړی دی او ژوند مصنوعي شوی دی. خو دا لړۍ او له طبيعت څخه د پرديتوب حس آن له هغې زماني د انسان ملګری شوی، چې له ځنګلونو څخه راووت، خپل شرمځای يې په پاڼو يا د ځناورو په څرمن پټ کړ، لومړنۍ ډبرينه وسله يې جوړه کړه، اور يې کشف کړ او لومړنۍ جونګړه يې ودانه کړه .
چې را لنډه يي کړم، انسان تل فکر کوي، چې په يوه بده زمانه کې زېږېدلی او تر ده پخواني انسانان هوسا او خوښ ول. انسان د خپلې اوسمهالي ناکامۍ او ناتوانۍ پړه پر زمانه وراچوي .
وايي : زمانه خرابه ده. پخوا زمانه ښه وه. زمانه هيڅکله نه ښه ده او نه خرابه، بلکې دا موږ يو چې د زماني ماهيت د خپلو ماهيتونو د ټاکنې په هڅه ټاکو .
انسان چې غواړي، له خپلې ناکامۍ او لټۍ وتښتي، نو نوستالژيکو حسرتونو ته ژاړي او خپله زمانه ښکنځي .
د ښې او هوسا راتلونکې لپاره فکر و عمل د انسان د دغې ځنډنې او لرغوني ناروغۍ يوازيني درمل دي .
هيڅکله مه وايئ، چې: تېره زمانه ښه وه او اوس خرابه ده .
دا ووايئ، چې: اوس زمانه تر پخوا ښه ده او بايد راتلونکې زمانه تر اوس او پخوا هغې لا پسې ښه او هوسا شي !

---

* پوښتنه د قدرمن ورور ښاغلي غني هاشمي وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ